# سرغندوی

## (ناب، مشهور)

# پوډري



لیکوال: ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

[illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

الله لا إله إلا هو الحي القيوم
لا تأخذه سنة ولا نوم له ما في
السموت وما في الأرض من
ذا الذي يشفع عنده إلا بإذنه
يعلم ما بين أيديهم وما
خلفهم ولا يحيطون بشيء
من علمه إلا بما شاء وسع
كرسيه السموت والأرض
ولا يؤده حفظهما وهو العلي العظيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر پښتون واټ / ماښام ۵:۳۸/ پیخلیک ۵. مرغومی.۱۴۰۲ لیږدی



نادر پښتون واټ / ماښام ۵:۳۸/ پیخلیک ۵. مرغومی.۱۴۰۲ لیږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک:** سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

**ليکوال:** ډاکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتۍ ډيزان:** ډاکتر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۵۰

**چاپ نېټه:** مياشت - لړم / کال ۱۴۰۴

**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸+

برېښناليک: atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتې.......................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن الرحیم ....................................................... ۲**
**د سرغندوی(ناب، مشهور) پوډري لیکنه........................................ ۳**
**د سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري سره انځورونه........................... ٤**
**لیکي پوهه:...................................................................... ٥**
**لړلیک ............................................................................ ٦**
**تراڼ (پیل، شروع، برید)....................................................... ۷**
**د یادښتونو له پاره:............................................................... ۹**
**نالنډوله (ناول، کیسه یا داستان) ............................................ ۱۰**
**د چاپ شویو کتابونو لیست..................................................... ٦۸**
**د کار لاندې کتابونو لیست .................................................... ۷۲**
**د امکان او وخت په صورت کې.................................................. ۷۳**
**د پخښتې ځټ ................................................................. ۷٤**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوړي

.......................................................

## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناخاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم. زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونې:**

- د محمد رضا د اصلی نوم په لیکولو او یادګاري انځورونو خپرولو له ورایه اجازه اخیستل شوې ده.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هیله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
.............................................................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
.........................................................

**ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)**

هغه اصلي د بامیانو ولایت دی چې په یوې روښانه کورنۍ، جلا وطنۍ، ایران هېواد کې په کال ۱۳۶۰ لېږدی سترګې دې نړۍ ته و غوړوې(خلاصې کړې).

پلار یې زده کړې درلودې او مور یې په ټیټه کچه یانې تر ځلورم ټولګي پورې زده کړې، کړې وې.

پلار یې د بې روزګارۍ په هکله خپل هېواد پرېښودو ته اړ او ایران هېواد ته مخه وکړه او الته په شاقه کارونو او وروسته یې د ډېرو په پرېکونې (برشکارۍ) برخې کې کار و موند، مګر مور یې د کور په کارونو اخته وه.

د هغوی ټوله کورنۍ اووه کسان چې سر ببره پر مور او پلار یې دوې ورونه او درې خویندې وو او ټولو د ایران په هېواد کې ژوند کوو.

پلار یې تل هڅه کوه چې پر زامنو او لورګانو سبک (سبق) و وایی او همداسې یې وکړل.

خپل ټول اولادونه یې په وار سره، ښوونځیو کې ګډ (شامل) کړل.

اولادونه یې ټول خورا هوښیار او د ښونځي په سبکونو کې چټک او لوړې شمېرې به یې اخیستې.

د کورنۍ یوه غړی یې چې محمد رضا نومېده تر ټولو خورا سرغندوی او ډېر خواریکښ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځان ته دوېیم (د کورنۍ نوم شیرزاد) ایښی و.

محمد رضا د کوشنیوالي نه ډېر نامنونی (شوخ) وه، تل به د باندې ګرځېده او ډېر دوستان، چې ځینې یې افغانان او ځینې نور یې مېشت یانې ایرانیان وو.

هغه به د ټولو سره د کوشنیوالې لوبې کوې او تر ناوخته به د باندې ګرځېده.

هغه لږ لوی او ښوونځي د تګ شو.

پلار یې هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړ، هغه د ښوونځي سره ډېره مینه درلوده او په لمړي کال کې، د خپل ټولګي لمړۍ شمېره په خپله کړه.

هغه به د ښوونکو سبک (سبق) ته ښه غوږ نیو، کورنۍ دندې به یې تر سره کوې او کله به چې په کوم سبکونو کې نه پوهېده، له خپل مشر ورور او خویندو نه به یې پوښتنې (ټپوسونه) کوې.

هغه به سهار وختې تر ټولو نه د مخه په ټولګي کې حاضر و او د نورو نه به وروسته د ټولګي نه د باندې کېده، په کوم څېز(شي) چې نه پوهېده، د خپلو ښوونکوو نه به یې پوښتنې کوې او ځان به یې پرې پوی کوه.

هغه ښه خوی درلود او ډېر اندیوالان یې هم په ټولګي، ښوونځي او د باندې درلودل.

هغه به مشرانو ته احترام کوه او هر مشر ته به یې سلام اچوه، ځکه هغه په لږ وخت کې پر ډېرو کسانو او ګاونډیانو باندې ګران شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

..........................................................

ښوونځي کې به يې تر ټولو ښې شمېرې وړې او تل به يې زيار باسه چې خپل ځای و ساتي.

پلار، مور او د کورنۍ نورو غړو به هم هغه نازاوه او کله ناکله به يې د ښوونځي د ادارې له خوا، هغه ته سوغاتونه (تحفې) ورکول کېدې.

هغه خپل لمړنی ښوونځی په عالي نمرو سر ته ورساوه او په لېسې کې ګډ (شامل) شو، البته به يې هم سبک وايه او ډېر نوي ملګري يې و موندل.

هغه شوک (شوق) د انجینرۍ سره و او د انجینري مضامین لکه رسم او تخنیک سره يې ډېره مینه وه او تل به يې ښه رسمونه وېستل (کاږل).

هغه په ښوونکو ډېر ګران شو او له هغه سره به يې مرسته کوه، کوم وخت چې به هغه ستونزه درلوده.

هغه به په کور کې هم سبک (سبق) وايه، رسمونه به يې وېستل او هم به يې ليکې (خط) ليکل.

خدای هغه ته په پورته هنرونو کې خاصه مینه او استعداد ورکړی و.

هغه به د ښوونځي نه وروسته د خپلو ملګرو سره د باندې ګرځېده او ډېر ملګري يې د هغه استعداد ته حيران او د هغه سره به يې منفي او بې ځايه سيالي کوې، همدا راز به يې هغه ته ځاه ګانې کيندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به کوښښ کوه چې له هغه کسانو نه ځان لرې وساتي کوم چې په سګرټو، نصوارو، چرسو، شرابو او پوډرو په څکولو او ښلو(شکلو) باندې اخته وو.

د سګرټو څکولو نه یې ځان لرې و ساته، مګر په دري ژبه کې یوه متل دی چې وایی:

با ما نشینی ما شوی - با دیګ نشینی سیاه شوی

همزولو او انډیوالانو به یې هغه ته د سګرټو څکولو وړاندیز کوه او ویل به یې:

واخله!

و څکوه!

ترې خوند واخله، ژوند هسې تېرېږي.

هغه به د هغوي خبرې نه منې.

بیا به یې سوچ کوه چې؛ راځه یوه ځل یې وڅکوه او وګوره چې څه خوند لري او که نه؟

ملګرو به یې ویل:

د سګرټو پیسې مونږ ورکو، ته مصرف مه کوه، ته باید لږ، لږ سګرټ وڅکوې او زمونږ په شان به شې، د ورځې یوه دانه سګرټ دې بس دی.

هغه به ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه يې نه څکوم.

بيا به عادت شم.

ملګرو به يې ويل:

نه!

په يوه، دوې دانې د ورځې څوک نه عادت کيږي.

مه وېرېږه!

څو ورځې تېرې شوې.

هغه زړه نا زړه يوه دانه سګرټ د خپلو ملګرو نه واخيست او هغه يې وڅکاوه، چندان خوند يې ور نه کړ.

بيا يې ملګرو ته و ويل:

دا څه خوند لري؟

زه خو يې په خوند پوی نه شوم.

هغوی و ويل:

په لمړی ورځ خوند نه کوي، خوند يې بيا ورځ په ورځ ډېرېږي، ته د سګرټو د اخيستو په هکله سوچ مه کوه.

مونږ درته ژوندي يو، ملګري څه په درد خوري؟

هغه به ويل:

مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر کېدای شي زه پر سګرټو اخته شم.

هغوی به ویل:

نه بابا!

په څګرټو څوک نه عادت کیږي.

مونږ یې هم د شوک (شوق) نه څکوو.

هر وخت چې وغواړو، کولای شو پریې ږدو.

سګرټ هسې مود دی.

نه کومه نېشه لرې او نه هم کوم نقصان (ضرر).

هسې د انجونو پام ځانته اړوي.

هغه د ملګرو تر اغېزې (تاثیر) لاندې راغی او په سګرټ څکولو یې پیل کړ.

لمړئ ورځو کې به هغه ته ملګرو یې سګرټ په وړیا توګه ورکول، تر څو هغه پرې عادت شو، بیا به یې د ورځې کوم سګرټ ورکوه او هغه ته به یې ویل:

مونږ خو د تا سره وعده کړې وه چې تا ته به سګرټ درکوو، مګر اوس مونږ اقتصادي ستونزې لرو او نه شو کولای له تا سره مرسته وکړو، ته اړین یې چې ځانته، سګرټ واخلې.

په دې خبره هغه ډېر خواشینی (خپه) شو، دا خبره یې د کورنۍ نه هم پټه کړې وه او کور کې څوک پرې نه پوهېده چې هغه د سګرټو په څکولو اخته شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه به د سګرټو اخیستلو د پاره خپل پلار نه، کله په یوې او کله په بلې پلمې پیسې اخیستې، په پیسو به یې سګرټ اخیستل او څکول.

کله نا کله به ملګرو سره سینما، پارکونو ته هم ته او ماښام ناوخته به، کورته راته.

پلار یې د باندې په کارونو، د یوې مړی ډوډی پیدا کولو پسې ګرځیده او ناوخته به کورته، راته.

مور یې هم د کور په کارونو اخته وه.

مور به یې هغه ته ویل:

مونږ بې وزلې خلک او دلته مسافر یو، کوښښ وکړه له ورانو(بدو) ملګرو سره مه ګرځه او ځان د هغوی نه لرې وساته.

هغه به ویل:

نه!

مورې!

زما دوستان ټول ښه خلک دي.

مونږ د ښوونځي نه وروسته پارکونو ته ځوو او الته خپل سبکونه (سبقونه) وایوو او ناوخته کورته راځو.

مور به یې ویل:

ته رښتیا وایې، مګر پام کوه چې په بدو اخته نه شې (وانه وړې).

هغه به ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

......................................................

نه موريږ !

زه اوس په خپل ښه او بد پوهيږم.

ته سوچ (تشويش) مه کوه.

کالونه تېر شوو.

هغه د لېسې نه په لوړو شمېرو و وت (فارغ شو).

هغه د کانکور آزموينه ورکړه او په ښو شمېرو د خپل زړه پوهنځي ته بريالی (کاميابه) شو.

هغه په پوهنځي کې د برېښنا څانګه و ټاکه او هغه يې مخ ته وړه.

بدو او نا اهلو ملګرو يې هغه يواځې پرې نه ښود او هغه يې د سګرټو تر څنګ په دېخوا اخوا ګرځېدو هم بلد کړ.

هغه به د سهار له خوا پوهنتون ته، ته او وروسته به د دوستانو سره بې ځايه ګرځېده.

پلار يې ورځ په ورځ مخ په زوړې (زړېدو، سپين ږيري کېدو) شو او دومره د کار توان يې نه درلود لکه د ځوانۍ وخت.

هغه به تل خپلو ځامنو او لورګانو ته نصيحت کوه او ويل:

زه تر پای پورې ژوندی نه يم، تاسو کوښښ وکړئ تر څو زدکړې وکوئ او په خپلو پښو ودرېږئ.

کار موندنه دلته آسانه نه ده، بې زده کړو کسانو ته دلته څوک کار نه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو يې په خپله وينئ.

محمد رضا به په سبقونو کې زيار او کوښښ کوه، مګر ورځ تر بلې به د دوستانو تر اغېزې لاندې راته، په دروغ ويلو او دوکو يې هم پيل کړ.

کله به چې پلار يې پيسې نه درلودې، هغه به د خپلې مور نه پيسې اخيستې او په هغه به يې سګرټ پېرودل او سينما ته به هم ته.

وختونه تېر شوو.

هغه د پوهنځي څخه فارغ شو.

د استوګنې په ښار کې يې کار و موند او په شوک (شوق) سره به يې کار کوه او تنخوا به يې د مور سره شريکوه او ګډ ژوند يې درلود.

بل ورور او خويندو يې هم ځانونو ته څه ناڅه کارونه و موندل او ټولو به کارونه کول.

مور به يې رضا ته ويل:

ته ډېر کار وکړه او پيسې وګټه.

زه به د تا پيسې ټولې او په وطن کې به تا ته کوژده او وروسته به واده وکړم.

هغه به خندل او څه به يې نه ويل.

هغه ښکلی ځوان او پنځه ويشت کلن شو.

لږ لږ په پوډرو اخته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

......................................................

کور کې به يې بد خلقي کوه.

د تنخوا پيسې به يې له مور نه بېرته اخيستې او په هغو به يې پوډر اخيستل او څکول.

هغه له بده مرغه کندې ته ولوېد.

په لمړی کال کې هغه کورنۍ د هغه په بدو اعمالونو نه پوهېدل، مګر وروسته ،وروسته پرې پوی شوو.

هغه يې تر درملنې لاندې ونيو.

مګر بيا کوم وخت به چې د ملګرو سره يو ځای کېده، بېر ته به يې پوډرو ته مخه کوه.

کال بل هم تېر او پلار يې وفات شو.

د کور نفقه د ورونو تر غاړې شوه،.

پر هغه بوج (فشار) نور هم ډېر شو.

د يوې خوا روږدي (معتادېدل) او بلې خوا کار کول.

هغه ورو، ورو د کور په پرېښودولو پيل کړ.

لمړی به په اونې کې درې ورځې کور ته نه راته، بيا وروسته تر دې چې کور يې پرېښود.

هغه به نورو روږدو کسانو په څېر په پټو ځايونو کې اوسېده، شپې او ورځې به يې تېروې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..........................................................

کورنې یې کوښښ کوه چې هغه ومومي او د هغه درملنه وکړي، مګر د هغوی هڅې کومې ښې پایلې یې نه درلودې.

هغه ۲۷ (اووه ویشت) کلن شو.

کورنۍ یې کوښښ کوه چې هغه بېرته خپل لمړي حالت ته وګرځوي.

کله به یې په کور او کله به یې په روغتون کې بند کړ.

مګر کومه ګټه یې ونه رسوله.

څو موده وروسته هغه اړ شو چې ایران پرېږدي او هېواد ته ستون شي.

هغه لمړی خپل پلارنې ټاټوبي (بامیانو ولایت) ته لاړ.

التبه څه موده یې د خپلوانو سره تېره کړه او کوم وخت چې خپلوان یې پرې پوې شول چې هغه روږدی (پوډري) شوی دی، هغه به یې د خپلو کورونو نه شاړه او هغه ته به یې د کورونو ننوتو اجازه نه ورکوله.

هغه هم التبه څه روږدي کسان وموندل او له هغوی سره به یې ور ځې او شپې تېروې.

التبه ډیر په تنګ شو او د څو نورو روږدو کسانو سره کابل ښار ته راغی او سوزېدلي پول (پل سوخته) تر پله لاندې مېشت شو.

هغه د کار او بار نه و.

مګر هغه د لیک ښه استعداد درلود.

هغه قلمونه او کاغذ لاس ته راوړل او لیکنې به یې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..................................................

هغه به، بسم الله الرحمن الرحیم، آیته الکرسي، چهار قل او داسې نورې سورې به یې لیکلې او خلکو به د هغه نه په لړو پیسو پېرودلې.

هغه به پیسې ټولوې، په پیسو به یې خواړه او پوډر اخیستل.

څه نورو کسانو هم د هغه سره ځانونه پېوند (یوځای) کړل او د هغه سره یوځای یوې خوا او بلې خوا به ګرځېدل.

هغوی به ده ته د ورور لقب ورکوه، د هغه سره به یې ډوډۍ خوړه او پوډر به یې څکول.

هغه تل یواځې خوښ و.

کوښښ به یې کوه چې څه وګټې او ویې خوري.

هغه د انډیوالانو نه کرکه درلوده او تل به یې زیار(کوښښ) باسه تر څو یواځې وګرځې، لیک ولیکي، ویې پلوري، یواځې کېنې او ویده شي.

کله نا کله به جمهوري دولت پر پل سوخته چاپه واچوه او ټول پوډریان به یې راټول او هغوی به یې روغتون ته واستول، مګر څو ورځې وروسته به بېرته خوشې کېدل او هغوی به هم خپلو پخوانیوځایونو ته ستنېدل.

د پل سوخته پوډریانو ډېر نوم تر لاسه کړی وو، او ځینې کړیو به الته پوډر خرڅول او ښې ګټې به یې تر لاسه کوې.

یاد شوي ځای ته، نورو پوډریانو هم کډه کوه.

د ده ځای پوډریان ورځ تر بلې ډېرېدل او نارینوو تر اړخ ښځینه پوډریانې هم تر سترګو کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

.....................................................

خلک به هم راتلل او د هغوی نه به يې انځورونه اخيستل او پر خپلو مجازي پاڼو به يې خپرول.

د شخصي تلوېزيونونو خبرياالنو هم هغې خوا ته مخه کړې وه او هره ورځ به يې نوي انځورونه او راپورونه خپرول.

مافيايي دولت هم کومه لېوالتيا د هغوی درملنې د پاره نه درلوده او هر يوه د خپلو جبونو د ډکولو په حال کې وو.

هره ورځ به تنکي او زده کړيالله ځوانان د وزګارتيا له وجې نه پوډرو ته مخه کوه.

نشه يې توکې لکه:

چرس، ترياک، شراب، اپين، پودر، شيشه، ټابليت کا او داسې نور په پرېمانه، آزاده توګه حتې د امنيتې سيمو(حوزو) تر څنګ خر څېدل چې د بېلګې په توګه کوالی شو د طلوع مارکېټ چې د نهمې سيمې (حوزې) ته نږدې او د مخدره موادو ضد وزارت ته څېرمه شتون درلود، نوم په ډاګه کړو.

دولت به په ژبه (خوله) نارې او سورې وهې چې مونږ د نشه يې توکو مخنيوي له پاره مبارزه کوو، مګر په اصل کې به هغوی د دې تبا کونکي مرض د خپرولو له پاره عملي کار کوه.

محمد رضا هم څو ځلي د لنډې مودې له پاره بندي شوی او په بند کې به يې پوډر په لوړه بيه تر السه کول.

هغه وروسته تر دوو کلونو د پل سوخته سيمه پرېښوده او يواځې نورو سيمو ته کډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

..........................................................

څه کسان چې د هغه سره په پل سوخته کې بلد شوي وو، ده پسې راتلل او د هغه د ګټل شویو پیسو نه به یې ګټه تر لاسه کوه.

هغه، په دې کار خوښ نه و.

هغه به د نورو پوډریانو نه پټ، خپل ځای بدلاوه او یواځې به ګرځېده.

هغه به د شپې تېرولو له پاره کوم ځای نه درلود، کوښښ به یې کوه چې کوم جومات ته ځېرمه کوم ځای پیدا او الته بیده شی.

کله به د ښار په یوه واټ او کله به د بل واټ تر خوا څرګندېده او الته به یې په کاغذو لیکل کول او پلورل.

کوم وخت چې به یې د یوې ورځې د خوړو او پوډرو پیسې پیدا کوې ، د لیکلو کار به یې بس کړ او د ځایه به روان شو.

لمړی به یې ځانته د خوړو شیان او ډوډۍ اخیسته او وروسته به یې پوډر اخیستل او څکول.

کله به د پوډرو کوشني سوداګرو به هغه ته پوډر وړل او په لوړه بیه به یې پر هغه پلورل.

وختونه تېرېدل او هغه هم کوښښ کوه چې ځان ته کار وکړي.

کله به د شاه دوشمشېره جومات خوا ته او کله د میوند واټ ته څېرمه څرګندېده او خلک به ترې تاوېدل.

چا به ورته د لیکو فرمایښت ورکوه او چاه به د هغه نه انځورونه اخیستل او په خپلو مخو به، تلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په لیکنه کې خاصه ځانګړتیا او مهارت درلود، داسې ځانګړتیا خدای د لږو خلکو په برخه کړې ده.

هغه به په دوبي کې خوشحاله ښکارېده او کولای یې شو چې هرې خوا او آزاده اوا (هوا، فضا) کې وګرځي او د شپې له خوا بیده شي.

هغه به د شپې له خوا د ځینو سرایونو او یا هټي وته نږدې بیده کېده.

د کوڅه ډبو سپیانو هم د هغه سره جوړه وه.

کوم وخت چې به هغه بیده کېده، څه سپیان به هم د هغه تر څنګ بیده کېدل او د هغه ساتنه به یې هم کوه.

په دوبي کې هغه به له سپیو ځان لرې ساته او په ژمي کې د تودوخي په موخه زیار به یې باسه تر څو سپیانو ته خواږه ورکړي، له ځانه سره یې بلد او بیده کړي.

سپیانو به هم د هغه سره د ورځې لوبه او د شپې له خوا به یې د هغه تر څنګ ډېره کړې وه، هغه به هم ځان پرې تود ساته.

وختونه تېرېدل.

ورځې شپې او شپې په ورځو اوښتې.

عمر تېرېده.

هغه په دې سوچ کې وه چې څرنګه له پوډرو څکولو نه لاس پر سر ، پر هغه خدای رحم وکړي او بېرته خپلې کورنۍ سره یوځای شي.

ځینو خلکو به هم پر هغه زړه خوږېده او هغه ته به یې د روږدی د خلاصون دعاوې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
.........................................................

هغه به تل د مازیګر له خوا د سرکونو تر غاړې او واټونو ته څېرمه څرګندېده.

البته به یې په لیکنې پیل کوه.

څه کالونه نور هم تېر او د هغه عمر تر دېرشو واوښت.

هغه وتوانید د پوډرو په څکولو کې کمښت راولي.

د هغه د یوې ښو خصوصیاتو نه هم د هغه کرکه د ملګرو سره، وه کومو چې هغه یې په لمړي کې په سګرټو او بیا په نور شیانو روږدی کړ.

هغه به د تل په څېر یواځې ګرځېد او که کوم بل پوډري به غوښتل چې له هغه سره یوځای شي، هغه به یې له ځانه لرې کو، او یا به هغه ته یې خپل ځای خوشې کوه او له ځای نه به یې بل ځای ته کډه کوه.

د هغه په خپلو کټل شویو پیسو ځان ته رنګه دبل (کاک) کاغذونه کلمونه (قلمونه)، رنګونه اخیستل، په خپلې کڅوړې کې به یې ایښودل ، د کار په وخت کې به یې راوېستل او پر هغه به یې کار، کوه.

د هغه ښه او ښکلی لیک بې ساری (بې نظیره) وه او ځینې وختونه به عریضه لیکونکو هم د هغه د لیک ننداره کوه او ویل یې:

مونږ.عریضه لیکونکي یو، مګر د ده په شان نه شو کولای لیک و لیکو، خدای ده ته ښه استعداد ورکړی، مګر افسوس او سل افسوس چې په پوډرو اخته دی.

کېدای شی د نا اهلو ملګرو سره په ګرځېدو، ده حالت ته راغلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بر سېره د لیکنه نه، ښه مسلکي د برېښنا انجینر هم و، مګر هیچا دا جرات نه کوه چې د هغه نه د برېښنا په انجینرۍ ځانګې کې ګټه واخلي.

ډېری خلک به ډارېدل، که چېرې هغه ته کومه دنده ورکړي، کېدای شي لمړی ځان ته کومه ستونزه جوړه او یا هم نور جوړ کسان د پوډرو په څکونې اخته کړي.

داسې زړه سواندی کس پیدا نه شو چې هغه په روغتون کې بستري او د هغه درملنه وکړي.

څه موده تېره شوه.

د هغه ورور ته چا خبر ورساوه چې محمد رضا افغانستان تللی دی.

او اوس په کابل ښار کې په کوڅو کې ورځې او شپې تېروي.

د هغه ورور، د کس نه یې پوښتنه وکړه:

هغه به چېرته و مومم؟

کس و ویل :

هغه په یوه ځای کې نه اوسېږي، کله په یوه ځای او کله په بل ځای کې ورځې او شپې تېروي، همدا راز هغه تل یواځې وي.

لیکنې کوي او هغه پر خلکو پلوري او ځان ته ډوډۍ او پوډر پرې اخلي.

ورور یې ډیر خوشحاله شو.

هغه او د هغه کورنۍ سوچ کوه چې رضا مړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
......................................................

ورور يې په خوشحالۍ سره کور ته لاړ او د هغه د ژوند کيسه يې د نورو خويندو او مور سره ګډه (شريکه) کړه.

مور يې د خوشحالۍ نه په ژړا شوه او خويندو يې هم، وژړل.

هغه پر ټولو ډېر ګران و، ځکه هغه په سبکونو(سبقونو) کې تر ټولو مخکې و.

د دې خبر په اورېدو سره د کورنۍ ټول غړي يې خوشحاله شو او شکرونه يې و وېستل.

بيا مور يې د خپل زوی نه غوښتنه وکړه چې افغانستان ته لاړ، هغه ومومي او له ځانه سره يې ايران ته راولي، تر څو يې درملنه وکړی.

زوی يې و ويل:

سمه ده مورې.

اوس هوا ډېره سړه ده او زه هم په کابل کې د اوسېدو له پاره کوم ځای نه لرم، همدا راز د هغه د اوسېدنې ځای هم معلوم نه دی، چې ژر يې پيدا او هغه له ځانه سره راولم.

مور يې و منه او د هغه نه يې مننه وکړه، د هغه نه يې وغوښتل د پسرلی په وخت کې هرو مرو کابل ته لاړ او هغه د ځانه سره راولي.

ژمی په سختۍ سره تېر شو او پسرلی ورسېد.

مور يې بيا د خپل زوی نه و غوښتل تر څو هېواد ته لاړ او خپل ورور پيدا کړي.

هغه و ويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده مورې!

زه به سبا خپل کار خاوند سره په دې هکله مشوره او د هغه نه به شل ورځو د پاره رخصت واخلم.

سبا شو او هغه خپل کار دفتر ته لاړ.

بيا د کار خاوند دفتر ته لاړ.

سلام يې ورکړ.

هغه هم سلام ته يې وعليکم و ويل.

بيا يې ترې پوښتنه وکړه:

خيريت خو به وي چې دومره وختي زما دفتر ته راغلې؟

هغه و ويل:

هو صيب!

خيريت دی!

زما د ورو په هکله يوه خبر راغلی دی.

د کار خاوند و ويل:

تا خو ويل چې هغه ورک اومړ شوی دی.

هغه و ويل:

زما هغه ورور چې پوډری شوی و، وروسته له کالونو نه پيدا شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلکو په وینا، هغه ژوندی او د افغانستان په پلازمینې کې ژوند کوي.

بیا د کار خاوند و ویل:

زه څه مرسته در سره کولای شم؟

هغه و ویل:

لمړی که څه پیسې ما ته د پور په تو‌ګه راکړئ او په میاشتو یې د تنخوا نه مې وګرځوئ، ډېره مهرباني به مو وي.

هغه خپل د محاسبې مدیر ته غږ کړ.

مدیر راغی او د کار خاوند ته یې و ویل:

امر وکړئ صیب!

د کار خاوند و ویل:

د محمد رضا ورور ته پور پیسې ورکړه او بیا یې په قسطونو د هغه د تنخواه نه وګرځوه.

مدیر و ویل:

څومره پیسې ورکړم؟

هغه مخ راواړو او د محمد رضا د ورور نه یې پوښتنه وکړه او ویې ویل:

څومره پیسو ته اړتیا لرې.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نیم لک تومانو ته.

د کار خاوند د محاسبې مدیر ته و ویل:

پیسې برابرې کړه.

مدیر و ویل:

سمه ده!

بیا د کار خاوند د محمد رضا د ورور نه و پوښتل:

نور څه خدمت کولای شم؟

هغه و ویل:

زه د دې کار په اړه ۲۰(شل) ورځو رخصت ته اړتیا لرم.

هغه و ویل:

کومه ستونزه نه شته.

خو!

په دې ۲۰ (شل) ورځو رخصتیو په موده کې نه شم کولای تا ته تنخوا درکړم.

یانې دا رخصت بې له تنخوا کېدونکی دی.

هغه و ویل:

سمه ده!

خو چې د بېرته راتګ سره و کولای شم خپلې دندې ته دوام ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار خاوند په خندا شو او ويې ويل:

هیڅکله دا کار نه کوم.

زه تا ته د مخکې پيسې (پور) درکړم نو بيا تا څنګه له دندې ګوښه کوم.

د محمد رضا ورور خوشحاله شو.

بيا د محاسبې مدير هغه ته غږ کړ.

راځه چې پيسې درکړم.

هغه له ځایه پاځېد او د کار خاوند نه یې مننه وکړه، بیا یې ترې خدای پاماني واخیسته او د هغه دفتر نه و وت.

هغه محاسبې د مدير سره هغه دفتر ته د ننه او د پور فورمې ډکولو او لاسيک نه وروسته یې پيسې تر لاسه کړې.

پيسې يې په تخرګ جيب کې کېښودي او د محاسبې له دفتر نه و وت.

بيا هغه خپل کار ځای ته لاړ او د خپلو نږدې ملګرو نه يې خدای پاماني واخيسته او د کار ځای (پابريکې، فابريکې) نه و وت.

د ښاری موټر تم ځای ته لاړ او الته د څو دکیکو له پاره ودرېد.

په زړه کې ډېر خوشحاله و او سوچ يې کوه چې ګوندې خپل ورو ومومي.

په سوچ، سوچ کې موټر راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په خپل جب لاس تېر کړ چې پیسې شته او که نه؟

هغه الته هم د کیسه برانو نه ډیر ډارېده او څو ځل یې ترې پیسې وهلې وې.

هغه پوی شو چې پیسې یې په جب کې شته او بیا وروسته موټر ته وخوت.

څنډ وروسته د کور ته څېرمه، تم ځای ورسېد او له موټر نه ښکته (کوز) شو.

بیا یې پر جب لاس تېر کړ، جب یې دروند و.

کورته لاړ او ور یې وټکوه.

مور یې دروازې ته راغله او دروازه یې خلاصه کړه.

هغه خپلې مور ته سلام واچوه.

مور یې هم د خپل زوی سلام ته وعلیکم و ویل.

بیا کور ته د ننه شو.

د چای د څښلو نه وروسته د خپلې مور او خویندو سره په کیسو اخته شو.

هر یوې به هغه د موندلو مشورې ورکوې.

چا به و ویل:

لمړی دوستانو کورونو ته لاړ شه، کېدای شي چا لیدلی وې او هغوی در سره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
.....................................................

بلې به ويل:

دا ستونزمنه خبره ده.

هر څوک د خپل ځان په وير اخته دي.

څوک د سمو پسې نه ګرځي، بيا پوډريانو پسې.

په خبرو اترو شپه پخه شوه او مور يې و ويل:

راځئ!

ويده شوو.

الک سبا ته سفر لري.

نور ټول شيان به خدای ته، وسپارو.

ټول ويده شوو.

سهار شو.

مور يې تر ټولو وختي د ذکر له پاره پاڅېده ، چای يې دم او بيا يې خپل زوی راويښ کړ.

وروسته لورګانې يې هم پاڅېدې.

ټولو په ګډه چای وڅښل.

دستر خوان ټول او الک له ځايه پاڅېد او د مور نه يې دعا واخيسته، بيا يې د خويندو سره خدای پاماني وکړه او د کوره بهر شو.

لمړی د موټرو تم ځای ته لاړ او الته د موټرو په انتظار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دکيکې وروسته يې تکسي و نيو او اډې ته لاړ، چېرې چې د افغانستان پولې (مزي، ليکې، بورډر) ته موټرو تګ راتګ کوه.

هغه دوې ګړی وروسته د افغانستان پولې ته ورسېد او له موټره کوز او په پښو له پولې (مزي، ليکې يا بورډر) نه واوښت.

بيا د هرات موټرو کې کېناست، لږ ځنډ وروسته هرات ښار ته ورسېد.

وروسته د کابل موټرو اډې (هډې، تم ځای) ته لاړ او يې وغوښتل تر څو د کابل ښار ټکټ وکړي.

هغه د ټکټ خرڅولو غرفې ته نږدې او ويې ويل:

د ټکټ بيه تر کابل پورې څو افغانی ده؟

کس ورته و ويل:

ته په همدې بڼه (قيافه) غواړې کابل ته لاړ شې؟

هغه و ويل :

هو!

بيا يې و پوښتل:

کومه ستونزه شته ؟

ټکټ خرڅونکي و ويل:

دلته کومه ستونزه نه شته، مګر ستونز په لاره کې وې.

تا ته به ډېره ګرانه وې چې په دې بڼه کابل ته لاړ شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:

زه د خپل ورور موندلو له پاره د ايرانه راغلی يم.

اوس غواړم چې کابل ته لاړ، هغه پيدا او له ځانه سره يې يوسم.

کس و ويل:

ستا ورور خپه شوی او له ايرانه بېرته کابل ته تللی دی؟

هغه و ويل:

نه!

زما ورو به د نا اهلو کسانو سره ګرځېد، هغه لمړی په سګرټو، بيا په چرسو او وروسته په پوډرو اخته شو.

اوس کوښښ کوم چې هغه پيدا او درملنه يې وکړم.

کس ورته و ويل:

زما په اند، ښه به وي چې په الوتکه کې لاړ شې.

هغه و ويل:

پوهېږم.

خو!

که چېرې ما د الوتکې وس درلود، کولای مې شو د ايران څخه تکټ واخلم او بې له کومې ستونزې کابل ته لاړ شم.

بيا کس و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته دلته کېنه!

کوم بلدي چلونکی راشي او زه به د تا په هکله هغه ته سپارښتنه وکړم.

هغه د غرفې خوا ته کېناست.

څو دکيکې وروسته د تکټ پلورونکي (خرڅونکي) يوه دوست راغی او هغه ته يې د محمد رضا د ورو په هکله معلومات ورکړل.

هغه و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

زه يوه کلينډر لرم، هغه وطنۍ جامې او ږېره هم لري.

دا دې په پير پلورنځی(کهنه فروشی) زړې جامې ونيسي او واغوندي که چا پوښتنه کوه، زه به ورته و وايم چې زما کلينډر دی.

او د بل کلينډر سره به يوځای د موټر شاو خوا ګرځي.

په دې خبرو سره د محمد رضا ورور ډېر خوشحاله شو او ويې ويل:

موټر کله حرکت کوي؟

هغه و ويل:

سهار وختي.

بيا تکټ پلورنکي ور ته و ويل:

تکټ واخله او د بس انتظار کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه تکټ واخیست او ویې ویل:

اوس به څه کوم؟

تکټ پلورنکي هغه ته و ویل:

اوس پوره وخت لرې.

ښار کې زړې جامې واخله او بېرته راشه.

دلته رستورانټ هم شته، شپه به دلته وکړې او سهار وختې به د نورو مسافرو سره یوه ځای حرکـ وکړې.

هغه خوشحاله او بېرته د ښار پلازمېنې (مرکز) ته لاړ او الته یې کارول شوې جامې واخیستې.

بیا بېرته د موټرو اډې (هډې) راغی، په حمام کې یې خپلې جامې بدلې کړې.

خپل پطلون، کمیس او کرتۍ یې په خپلې کڅوړې کې کېښودې.

شپه یې الته تېره، سهار وختې د چای د څښلو نه وروسته د نورو مسافرو سره په بس کې کېناست او بس د کابل پر لورې حرکت وکړ.

چلونکي پر مسافرو غږ کړ.

یوه دعا د خیر!

ټولو و ویل:

خدایه!

مونږ ټول په خیر سره کابل ښار ته ورسوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ټولو، آمین و ویل.

بس ورو، ورو د هرات د ښار نه لرې کېده تر څو د ښاره و وت.

د بس چټکتیا (سرعت) به ورو په ورو ډېرېده او خلکو به د شاو خوا ننداره کوه.

لارې سمې نه وې، کوم ځای پوخ او ځینو ځایونو کې پلونه او پلچکونه لړنګ شوې او سړکونه کنډ او کپر وو.

چلونکی هم ناچاره و چې د موټر سرعت لږ او ورو، ورو لاړ شي، تر څوموټر چپه نه شي.

په داسې سیمو کې به مسافر یا بزګران هم تېرېدل او محمد رضا ورور به کسان لیدل.

هغه به بېرېده چې مجاهدین ونه اوسي.

موټر کندهار ښار ته ورسېد.

وخت نا وخته و.

چلونکي و ویل:

شپه دلته کوو او که مزل وهو؟

خلکو و ویل:

د شپې مزل د ستونزو سره وي.

سړکونه هم خورا وران شوي دي.

ښه به وې چې شپه وکړو او سهار وختي بیا مزل پیل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلونکي و ویل:

ښه به وې چې د ښار د ګڼې ګوڼې نه و وځو او د ښار نه په وتلې سیمې کې چه هوټل دی شپه تېره کړو.

زه د یوه هوټل خاوند سره بلد یم.

هغه په بیو کې هم مراعات کوي، او له بلې خوا التـه جومات، حمام او اودس خونې هم لري.

ټولو ومنه.

چلونکی هم د ښار نه بهر او څو دکیکې وروسته هوټل ته ورسېد.

موټر یې د هوټل خوا ته ودراوه او مسافرو ته یې و ویل:

اوس کولای شئ، تر سهار دلته پاتې شئ.

سهار وختی به اودسونه وکړو.

لمونځ به هم په لارې کې وکړو.

مونږ مخې ته نور هم مزل لرو.

ټولو ومنه او اخوا دېخوا خواره واره شوو.

شپه تېره او سها د لمانځه نه مخکې کیلینډر پر ټولو غږ کړ.

اله (هله) له خوبه پاڅېږئ.

اودسونه وکړئ، بیا به لمونځ په لارې کې وکړو.

خلکو اودسونه وکړل او بیا بس ته وختل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس حرکت وکړ.

په مناسب وخت يې د سهار لمنځونه وکړل او بيا يې حرکت وکړ.

لمړی غزني ولايت کې يې د غرمې ډوډۍ و خوړه او بيا مخ پر وردکو ولايت يې حرکت وکړ.

ماسپښين ناوخته او مازيګر نږدې و.

بس د سالارو سيمې ته ورسېد.

په دې وخت کې مجاهدو پر يوې جمهوريتي پوستې ډزې کوې.

خلک ټول په بېړه (وارخطا) شول.

بله لاره نه وه.

چلونکي بس ودراوه او خلکو ته يې و ويل:

مه بېرېږئ!

داسې پېښې کله نا کله په لاره کې منځ ته راځي.

زه به موټر د سړک غاړې ته ودروم تر څو حالات معلوم شې.

خلکو ومنه.

چلونکي بس د سړک غاړې ته ودراوه او خلکو ته يې و ويل:

تاسو د موټر نه مه ښکته کېږئ چې په ډزو کې ژوبل نه شئ.

خلکو و منه او غلي، غلي په خپلو ځايونو کې پاتې شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د محمد رضا ورور ډېر په بېړه کې شو او د چلونکي خوا ته لاړ او هغه ته يې و ويل:

ما ته خو به کومه ستونزه نه وي؟

هغه و ويل:

ته هم ارامه کېنه او د چا سره خبرې مه کوه.

هغه بېرته خپل ځای ته لاړ او پر خپلې څوکۍ کېناست.

څه کسان راغلل او د موټرو پر لټون يې پيل کړ.

د محمد رضا ورور ډېر وارخطا شو.

چلونکي پر هغه غږ کړ؛

اله ژر شه د موټر د ټايرونو اوا (هوا) وګوره!

هغه هم له موټره کوز شو او د بس د ټايرونو په ډبولو يې پيل کړ.

يوه کس (مجاهد) هم بس ته راوخوت او هر کس نه به يې پوښتنې کوې او ويل:

څه کاره يې ؟

چېرته ځې؟

د محمد رضا ورو بس د ټايرونو ډبولو نه خلاص او غوښتل يې چې بس ته وخيژي.

چلونکي پرې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیلینډره!

دا ساپي واخله او د بس مخې شیشه پاکه کړه!

بیا وروسته د بس دواړو خواوې شیشې هم پاکې کړه.

په پای کې مجاهد چلونکې ته و ویل:

ښه تکړه کیلینډر خو لرې؟

هغه و ویل:

هو!

بله لاره نه شته؛

د ځو ورځو مزلونه دي.

باید کیلینډر تکړه او ځوان وې.

کس څه و نه ویل او له بس نه ښکته شو.

یوه ګړۍ وروسته جګړه ودرېده او لاره هم خوشې شوه.

موټرو پر حرکت پیل او یوه به د بل نه مخکې کېدل.

ماښام نا وخته بس کوټې سنګي ته ورسېد او خلک د موټر نه ښکته شول.

د محمد رضا ورور د چلونکي نه ډېره مننه وکړه او له بس نه ښکته شو.

د یوه او بل نه به یې پوښتنې کوې او ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..............................................

دلته هوټل شته چې د پوډريانو سيمې ته نږدې وې؟

چا به خندل او چا به ورته حېران کتل او ويل:

پوډر دې په کار دي؟

که پوډرو پسې ګرځې دلته ډېر کسان شته چې پوډر خرڅوي.

هغه به و يل:

نه!

زما ورور پوډري شوی دی.

له ايرانه کابل ته راغلی يم او اوس غواړم هغه پيدا، له ځان سره يې بيرته يوسم او د هغه درملنه وکړم.

په دې وخت کې يوه سپين ږيری سړی و نږدې شو او له هغه يې، و پوښتل:

څو کاله به کيږي چې هغه پوډرو باندې اخته شوی دی؟

هغه و ويل:

تر لسو کلنو ډېر کيږي.

کس و ويل:

ډېر وخت کيږي.

ته پخوا چېرې او ولې ورپسې نه ګرځېدې؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

.....................................................

په لمړي سر کې مونږ پر هغه نه پوهېدو چې هغه پوډري شوې دی.

کله چې پوی شو، د هغه په درملنه مو پیل کړ.

مګر هغه د خپلو څو اندیوالا نو سره ورک شو.

مونږ به سوچ کوه چې هغه مړ شوی دی.

بیا سپین ږیري و ویل:

اوس څنګه پوی شوې چې هغه ژوندی او په کابل کې دی؟

هغه و ویل:

مونږ ته زمونږ یوه خپل، کیسه وکړه او ویې ویل:

هغه ژوندی او په کابل ښار کې د پوډریانو سره ګرځي.

بیا ما له خپلې مور او خویندو سره مشوره وکړه چې کابل ته راشم او هغه پیدا، بیا یې له ځانه سره ایران ته یوسم او الته یې درملنه وکړم.

سپین ږیري و ویل:

تا او د تا کورنې ته دې خدای اجر درکړي.

بیا هغه پوښتنه وکړه:

د کابل په کوم ځای کې پوډریان، ورځې او شپې سبا کوي؟

سپین ږیري و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..................................................

پوډریان ورځ تر بلې ډېرېږي او هرې خوا د پلونو لاندې اوسېږی او د رسنیو په وینا تر یوه نیم میلیونو کسانو هم ډېر دي.

د محمد رضا ورو حیران او په سوچ کې شو.

سپین ږیري و ویل:

څنګه په سوچ کې شوې؟

هغه و ویل:

چې داسې وي ، هغه به څنګه پیدا کړم؟

سپین ږیري و ویل:

اوس خو نا وخته ده، ښه به وي چې شپه په هوټل کې وکړې او سهار د پلونو لاندې، پارکونو کې او یا هم د سړکونو خواوو ته وګرځې.

که اوس وګرځې، کېدای شي کوم سپی دې وداړی، ځکه د پوډریانو سره سپي بلد شوي دي.

هغه د سپین ږیري خبره ومنه.

هغه شپه د کوټې سنګې په یوه میلمستون کې تېره او د سهار چای یې هم التـه وڅښه.

د میلمستون نه د باند او د یوه کس نه یې پوښتنه وکړه:

دلته نږدې پوډریان چېرته ژوند کوي؟

کس و ویل:

دغه مخامخ پول وینې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:

هو!

لاړ شه تر پله لاندې ډېر پوډریان دي، شاو خوا تر ۵۰۰ (پنځه سوه) هم ډېر دي.

پوډر هم الته خرڅېږي.

هغه و ویل:

پوډر په بلا وهم.

ورور مې پوډري شوی او هغه لټوم.

کس و ویل:

د هماغه پله نه یې پیل کړه.

هغه د کس نه مننه وکړه اوهغې خوا ته روان شو.

د پله په شاوخوا او لاندې په لسګونه پوډریان لیدل کېدل چې په کې ښځې هم ښکارېدې.

هغه نږدې ورغی.

څوک بیده او پر سر یې په هماغه ګرمۍ کې زوړ څادر، کورتۍ ( کوټ) اچولی و.

د چا تر څنګ سپیان هم بیده وو.

ځینې بیا نور هم سره غونډ شوي او د پوډرو په څکولو اخته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې خوا نه بد بويونه راتلل.

هغه د جيب نه دسمال را و ويست او پوزې ته يې و نيو.

بيا د خپل د ورور په لټون کې شو.

د ټولو پوډريانو په ځانونو کې خيرنې، شليدلې جامې وې.

ټول سپيره او مخونه يې هم تور شوي وو.

پېژندنه يې هم آسانه کار نه و.

هغه به کله يوه او کله به يې بل ته په ځير سره کاته او خدای، خدای به يې ويل چې خپل ورور ومومي.

کوم وخت به يې چې پر چا شک (ګمان) راغی چې د هغه ورور ته ورته دی، له هغه نه به يې پوښتنه وکړه:

ته خو به رضا نه يې ؟

هغه به ويل:

کوم رضا؟

دلته ټول رضا دي.

چا به ورته ويل:

لږ پوډر راته واخله، زه به درته رضا وښيم.

هغه هم څو پلا (ځله) دا کار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

.........................................................

کوم وخت به يې چې رضا نومی پيدا کړ، بيا به يې د هغه نه پوښتنې کوې.

وروسته به څرګنده شو چې د هغه ورور نه دی.

هغه څو ورځې د پلې سوخته شاوخوا وګرځېد او خپل ورور يې و نه موند.

بيا يې پارکونو ته مخه وکړه.

کله به شهرنو پارک او کله به د ښار نورو سيمو پارکونو ته، ته.

يوه ځای پوډريان نه وو.

ټول ښار پرې ډک وو.

لس ورځې هغه د خپل ورور پسې وګرځېد او کومه نښه يې پيدا نه کړه.

د ورځې به ګرځېده او د شپې له خوا به، بېرته هغه رستورانټ ته ته، کوم چې لمړۍ شپه يې په کې کړې وه.

کله ناکله به د رستورانټ شاګرد ترې پوښتنه کوه:

ورور دې پيدا کړ؟

هغه به ويل:

نه!

تر اوسه مې نه دی پيدا کړی.

شاګرد به سر خوزاوه او ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې خپل رحم وکړي.

پيدا کونه يې آسانه کار نه دی.

ملک، ملک پوډريانو په سر نيولی وه.

پوره پنځلس ورځې تېرې شوې.

هغه نا امېده شو.

مور سره يې اړيکه ونيوه او هغې ته يې و ويل:

د ورور پيدا کونه آسانه کار نه دی، هرې خوا پوډريان ډله ناست او يا بيده دي.

د هغوی نه مردار بويونه ځي.

زه هم ناروغه شوی يم او داروګان مې اخيستې دي.

ټوله ورځ د هغه پسې ګرځم.

ډېر ستومانه شوی يم.

د بلې خوا رخصتي مې هم مخ په خلاصېدو ده، که ناوخته راشم، کېدای شي د کار خاوند ما ته ځواب راکړي.

بيا بل کار موندنه هم آسانه نه ده.

مور يې په ژړا شوه او ويې ويل:

څو ورځې نورې هم وخت لرې.

ته کوښښ وکړه، ګوندې پيدا يې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې زیا ته کړه.

هغه ډېر ښه لیکونکی (خطاط) او هم د برېښنا انجینر و.

په دې نښو سره یې د خلکو نه پوښتنه وکړه.

خدای مهربانه دی چې، هغه پیدا کړې.

هغه و ویل:

سمه ده مورې!

ته مه ژاړه!

زه به کوښښ وکړم تر څو هغه پیدا کړم.

د مور نه یې خدای پاماني واخیسته او ټیلفون یې بند کړ.

سهار وختي بیا د رستورانټ نه و وت.

دا ځل به یې د پوډریانو او نور کسانو نه د هغه پوښتنې کوي او ویل یې:

هغه د برېښنا انجینر او ښه لیکونکی (خطاط) دی.

چا به خندل او ویل:

دا څرنګه انجینر او لیکونکی دی، چې پوډري شوی دی؟

هغه به ویل:

شوې ده.

هغه وران ملګري درلودل او هغه یې په نشو عادت کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..........................................................

یوه کس و ویل:

ما یوه ورځ، یوه پوډری د خیرخانې مېنې په سیمې کې چې د مریم لیسې ته مخامخ تر سړک غاړې ناست وو ولید، هغه څه یې پر کاغذ کې لیکل.

د رضا ورور ترې پوښتنه وکړه:

هغه ځوان وو او سپین ږیری؟

هغه و ویل:

سر یې ټیټ اچولی و.

زه ورته نږدې نه شوم.

د لرې نه د پوډرو بوی ترې راته.

د رضا ورور خوشحاله شو او هغې یادې شوې سیمې ته لاړ.

ډېر وګرځېد، خو څوک یې پیدا نه کړ.

هغه تږی شو، یوه هټیوال ته نږدې او یوه بوتل اوبه یې ترې واخیستې.

بیا یې ترې پوښتنه وکړه.

په دې شاو خوا کې کوم پوډري سره مخ شوی یې چې لیکنه کوي.

هغه و ویل:

یوه ورځ ما دلته یوه کس ولید چې خلک ترې تاو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د هغوی نه پوښتنه وکړه:

خیرت خوبه وي؟

خلکو و ویل:

هو!

دا پوډري څه ښکلې لیکنې کوي.

حیف یې چې پوډري شوی دی.

بیا یې ترې پوښتنه وکړه:

هغه هره ورځ دلته راځي؟

هټیوال و ویل:

نه!

کوم ماښام.

هغه دوې ماښام د سړکونو شاوخوا یې ګزمې وکړې.

په دریم ماښام یې د سړک غاړې ته د خلکو ګڼه ګونه ولیده، هغه هم ور روان شو.

خلک راتاو ول او د ننه څوک نه ښکارېدل.

له یوه یې پوښتنه وکړه:

څه خبره ده چې خلک راتول شوي دي؟

کوم غل خو به یې نه وې نیولی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس و ویل :

نه!

یوه پوډری دی.

ډېرې ښې لیکنې کوي.

هغه خوشحاله شو او له خلکو یې و غوښتل چې هغه ته لاره ورکړي

تر څو یې له نږدې وګوري.

په ډېرو خواریو یې ځان هغه ته ورساو.

هغه لږ سپین ږیری ښکارېده.

له ځان سره یې سوچ وکړ.

کېدای شي زما ورور وي.

بې کوري، بې روزګاري، پوډر څکونه دې حالت ته راوستی وي.

څوک ورته نه نږدې کېدل، هر چاه به د هغه نه تصویرونه اخیستل او په خپلو مخو به تلل.

د رضا ورو هغه ته نږدې شو او پوښتنه یې وکړه:

ته رضا یې؟

هغه و ویل:

کوم رضا؟

د رضا ورور ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم چې د برېښنا انجینر دی.

هغه و ویل:

زه رضا یم ، خو د برېښنا انجینر نه یم.

تا غوښتل چې له ما سره مرسته وکړې؟

هغه و ویل:

هو!

بیا پوډري و ویل:

زه د چا مرستې ته اړتیا نه لرم او نه غواړم چې څوک زما درملنه وکړي.

د رضا ورور و ویل:

سمه ده!

بیا د هغه ځای نه په ډیره خواشینۍ سره روان او بېرته رستورانټ ته ستون شو.

مور ته یې زنګ و واهه.

مور یې ټیلفون پورته او هغه ته یې و ویل:

فکر کوم چې ما ته ښه زېری لرې؟

هغه و ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
.......................................................

بیا یې د ورځې تېره شوې کیسه خپلې مور ته بیان کړه.

مور یې هم خپه شوه.

بیا یې و ویل :

ته یوه بله ورځ هم وخت لرې.

کوښښ وکړه په دې ښه کوم بل ځای ته لاړ او داسې پوډري پیدا کړې، کېدای شي دوبیم کس ستا ورور وي.

هغه ومنه.

بله ورځ هم په کابل کې پاتې شو.

دا ځل چا ورته د بل پوډري پته ورکړه چې کله ناکله د شاه دوشمشېرې جومات ته ځېرمه او د سیند ترغاړې سړک خوا ته لیدل کېږي او خورا ښکلې لیکنې کوي.

هغه د کرسي آیت، چار قل او داسې نورې قرآنکریم آیتونه د زیر، زبر، پېښ او غړوندي سره په سمه توګه لیکي.

هغه ډېر خوشحاله شو.

ماسپښین هغه د شاه دوشمشېره جومات خوا ته لاړ.

اخوا دیخوا وګرځېد او څوک یې د سړک تر غاړې و نه موندل.

مازیګر ناوخته شو.

زړه یې په تنګ شو او د یوه لاس ګاډی کس نه یې پوښتنه وکړه او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته څو ورځې کيږي چې کارکوې؟

هغه و ويل:

زه دلته تر پنځه کالو ډېر، کار او پر ګاډې دوبېيم لاس (ليلامي) کالي خرڅوم.

د رضا ورور بيا پوښتنه وکړه:

دلته د کوم پوډري سره مخ شوی يې چې ليکنې کوي.

هغه و ويل:

هو!

په مياشت کې کوم ځل د مازيګر او ماښام لمونځ تر مينځ راڅرګنديږی، هغه ليکنې کوې او بيا يې پر خلکو پلوري.

هغه خوشحاله شو او ويې ويل:

څومره وخت مخ کې تا دلته ليدلی و.

هغه و ويل:

مياشت مخکی.

بيا يې وپوښتل:

هره ورځ دلته راځي ؟

هغه و ويل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت.

لاس ګاډی والا وپوښتل:

ته عکاس یې او لیکونکی؟

هغه و ویل:

زما ورور همه د ده په شان صفات لري.

ځو کاله د مخه یې پوډرو ته مخ وکړه او له ایران څخه افغانستان ته راغی، زه اوس غواړم هغه پیدا او د هغه درملنه وکړم.

کس و ویل:

دا خو ډېر ښه کار دی.

ټیلفون شمېره دې ماته راکړه، کله چې مې په دې سیمې کې ولید، تا ته به زنګ و وهم.

ته به راشې او هغه به له ځانه سره بوځې.

د رضا ورور و ویل:

ډېره مننه کوم.

زه دلته نه اوسېږم.

کس و ویل :

حتماً امریکا او یا په اروپا کې اوسېږې.

هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه!**

زه په ایران کې مهاجر یم.

بیا یې د خپله ایران شمېره ورکړه او هغه ته یې و ویل:

زه سبا ایران ته ځم او کابل کې به دا موضوع د خپلو نږدې دوستانو سره شریکه کړم.

کله چې تا ما ته زنګ و واهه زه د ستا شمېره به هغوی ته ورکړم او هغوی به په دې هکله زما سره مرسته وکړي.

بیا یې د لاس ګاډي کس نه وپوښتل:

کولای شم ستا شمېره ولیکم.

کس و ویل:

زه خو اوس ټیلفون نه لرم.

کوم وخت چې مې ټیلفون واخیست بیا به یې تا ته پیغام (مسج) کړم.

هغه منه وکړه او تر ماسخوتن الته د سړکونه په غاړو وګرځېد.

ډیر ستړی شو او وروسته د پول د سر نه د کوټې سنګي موټر کې کېناست او نا هیلی د سیمي نه و وت.

هغه لمړی د هرات ټکټ واخیست او بیا رستورانټ ته لاړ.

الته یې چاي و ځښل بیا یې د شپې ډوډۍ وخوړه او بیده شو.

سهار وختي له خوبه پاځېد او د بس تم ځای ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..........................................................

په موټر کې و خوت او لږ ځنډ وروسته بس د هرات پر لورې حرکت وکړ.

هغه ناهیلی لمړی هرات او بیا وروسته ایران ته لاړ.

کورته ورسېد او ټولې تېرې شوې کیسې یې خپلې مور او خویندو ته وکړي.

هغوی هم خپه شو.

شپه یې په کور کې وکړه او سهار وختې خپلې دندې ته روان شو.

البته به ترې ټولو ملګرو پوښتنې کوې او ویل:

محمد رضا دې پیدا کړ؟

هغه به ویل:

نږدې کړی مې و.

مګر دا ځل زما سره بخت (چانس) ملتیا و نه کړه.

خلکو به ویل:

خدای مهربانه دی.

بل ځل به یې پیدا کړې.

هغه به ویل:

توکل په خدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال وروسته د رضا ورور بیا هوډ (تصمیم) ونیو چې افغانستان ته لاړ شي.

هغه کوښښ کوه چې هوا لږه سړه او د دوبي ګرمی تیرې شي.

تودوخه مخ په ټیټېدو شوه.

په هېواد کې ستر بدلون راغی.

هیچا به دا سوچ نه کاوه چې دومره ژر او شل کلن جمهوریت چې د امریکا او ناټو ملاتړ یې کېږي په یوې اونۍ کې را نسکور او د امریکا په شتون کی له مینځه لاړ شي.

طالبانو د دوبیم ځل له پاره سیاسي قدرت لاس ته راوړ.

د جمهوریت پر ځای یې امارت اعلان او درې رنګه ملي بیرغ یې کوز او د هغه پرځای خپل پخوانی سپین بیرغ ودراوه او هرچېرې په جګو او د بیرغ په پخوانیو ځایونو کې ورپاوه.

امارت هم د روږدو کسانو په ټولو پیل کړل، روږدي کسان به یې د سړکونو نه ټولول او روغتونونو ته به یې استول.

البته به یې د هغوی درملنه کوه.

امارت نوي او لوی روغتونونه پرانیستل او هره ورځ به یې پوډریان نیول او روغتونونو ته به یې استول.

همدا راز یې د نشه یې توکو کښت، تولید، پلور او قاچاق بند اعلان کړل.

د نشه یې توکو سوداګر به یې نیول او په بند کې به یې اچول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ تر بلې په ښار، سړکونو او واټونو کې روږدي کسان لړېدل، هغوی به د امنیتی کسانو له خوا نیول کېدل او روغتونونو ته لېږدول کېدل.

محمد رضا به هم د ځینو روږدو هوښیارو کسانو په څېر لږ او پټ ګرځېده.

ماښام ناوخته به څرګندېده او خپله سودا به یې کوه او بېرته به پټو ځایونو کې پټېده.

یوه ورځ چې ډېر وږی شوی و، سړک ته و وت او د سړک تر غاړې کېناست.

خپله کڅوړه یې خوا ته کېښوده او کاغذونه او کلمونه یې له کڅوړې و ویستل(و باسل) او پر لیکنې یې پیل کړل.

خلک د هغه شاوخوا راټول شوو.

چا به یې انځور اخیسته او چا به هم هغه ته دلیکنې فرمایښت ورکاوه، کسان ورو. ورو مخ په ډېرېدو شوو.

په دې حال کې څه امنیتې کسان هم ورسېدل او غوښتل یې چې پوی شي دلته د څه له پاره ګڼه ګوڼه ده.

هغوی ولیدل چې یوه پوډری ناست او لیکنې کوي.

یوه امنیتي کس بل ته و ویل:

راځه چې دا هم روغتون ته ولېږدو چې درملنه یې وشي.

شاو خوا کسانو هم د هغوی نه مننه وکړه او هغوی ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په پوډريانو کې ډېر هوښيار او وګورئ چې څومره ښه ليک لري.

خو افسوس چې چا يې تر اوسه درملنه نه ده کړې، که نه، اوس به ښه او د هېواد خدمت به يې کوه.

بيا امنيتی کس و ويل:

راځه زمونږ سره لاړ تر څو تا روغتون ته ورسوو.

هغه و ويل:

څو دکيکي مهلت راکړه چې دا ليک پای ته ورسوم بيا به، تاسو سره لاړ شم.

امنيتي کسانو څو دکيکې صبر وکړ تر څو د هغه ليکنه خلاصه او بيا يې پر هغه غږ کړ چې سامانونه دې خپلې کڅوړې کې کېږده او له مونږ سره موټر ته و خېږه.

خلکو ټولو هغه او امنيتی کسانو ته دعا وکړه او ويې ويل:

خدای دی دا پوډری روغ او د هېواد خدمت ته چمتو کړي.

پوډري هم خپل سامانونه په کڅوړې کې کېښودل، کڅوړه يې په لاس کې واخيسته او د امنيتي کسانو سره موټر ته وخوت.

امنيتی کسانو هغه د۱۰۰۰ بستريز روږدو کسانو، روغتون ته ولېږداوه او نوکريوال ډاکتر ته يې سپارښتنه وکړه تر څو د هغه ښه درملنه وکړي، او هم يې د هغه د استعداد او ليکونو ډېرتوصيف وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکریوال ډاکټر هغوی ته ډاډ ورکړ چې تر وسه پورې به د هغه درملنه او خدمت وکړي.

امنیتي کسانو زیاته کړه.

د دې له پاره چې دا ځوان خپل او خپلوان نه لري، مونږ به کله نا کله د هغه پوښتنې ته راځو.

نوکریوال ډاکتر و ویل:

سمه ده!

هر وخت چې تاسو و غواړئ، کولای شئ دلته راشئ او د هغه پوښتنه وکړئ.

کسانو د نوکریوال ډاکتر او پوډری نه خدای پامانی واخیسته او روان شوو.

لس ورځې وروسته د یوه امنیتی کس په یاد راغی چه هغه له نوکریوال ډاکتر او پوډری سره وعده کړې وه، چې د هغه پوښتنې ته به راځي.

هغه په خپل بل ملګری غږ کړل او ویې ویل:

مونږ خو د نوکریوال ډاکتر او پوډری سره وعده کړې وه چې د هغه د لیدنې له پاره راځو، څه وخت کولای شو د هغه پوښتنې ته لاړ شو.

ملګرې یې و ویل:

سبا سهار وختي به لاړ او وګورو چې درملنه یې شوې ده او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
...........................................................

سهار وختی دواړه الته لاړل.

هغه یې په نوم نه پېژانده.

بیا یې د نوکریوالی لس ورځې مخکې لیست وکوت.

مګر په هغې ورځې تر شلو ډېر روږدي کسان روغتون ته راوړل شوی وو.

بیا یې زیاته کړه.

مونږ د یوه پوډری چې ښه لیکونکی دی، پوښتنې ته راغلي یوو.

نوکریوال یوه نرس ته غږ کړ.

نرس راغی او ویې ویل:

څه خدمت ډاکتر صیب؟

هغه و ویل:

دوی تر۱۰۳ پیمی خونې پورې ورسوه؛

هغه و ویل:

سمه ده!

راځئ!

هغوی د نرس سره تر خونې لاړل او هغوی ته یې د ننوتو اجازه ورکړه.

هغوی خونې ته د ننه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خونې کې تر لسو ډېر پوډريان وو.

پوډريان ټول منظم او پاک شوي وو.

پېژندنه يې آسانه کار نه و.

بيا يوه امنيتی کس و ويل:

هغه ليکونکی (خطاط) ځوک دی.

ليکونکی په خندا له ځايه پورته شو او ويې ويل:

زه يم.

بيا يې د دواړو امنيتی کسانو سره روغبړ وکړل او د هغو د ليدو نه خوشحاله شو.

هغوی هم د ميوې کڅوړه د هغه تر خوا کېښوده او د هغه نه يې پوښتنې وکړې.

هغه په خندا و ويل:

اوس د خدای فضل دی ښه شوی يم.

هغوی و پوښتل:

دارو خورې؟

هغه و ويل.

هو!

دلته ډوډۍ او داروګان هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله نا کله نورو ته لیکنې کوم او هغوی هم م اته څه پیسې راکوي.

بیا هغوی ورته دعاوې وکړئ ، له ځایه پاڅېدل او هغه ته یې و ویل:

تر څو چې نه یې ښه شوی، د دې ځای نه، مه ځه او کوم وخت چې جوړ شوې خپل کورته لاړ او نوی ژوند دې پیل کړه.

هغه ومنه.

امنیتي کسان له روغتون نه دباندې او خپلو دندو پسې لاړل.

میاشت تېره او هغه روغ رمټ شو.

بیا د ډاکترانو غونډې (جلسې) نه وروسته له هغه وغوښتل چې کله نا کله دوا د اخیستلو له پاره، دلته راشي.

اوس کولای شي خپلې کورنۍ ته ستون شي.

هغه هم خپل شیان راټول، د ډاکترانو او د خونې کسانو نه یې خدای پاماني واخیسته او د روغتون نه بهر شو.

هغه پنځلس کلنه ناروغي (روږدي) پرېښوده او دوې کاله کېږي پوډرو ته یې بیا مخه نه ده کړې.

هغه په هوډ کې ډېر ټینګ (کلک) دی، اوس هم لیکنې کوي، هغه خپلې لیکنې پلورې او په پیسو یې ځان ته خواړه، درمل، د لیکنې اسباب اخلي او خپل ژوند تېروي.

اوس هغه ۴۲ (دوڅلوېښت) کلن او یواځې (مجرده) دی، د اوسېدو له پاره ځای نه لري او هم نه غواړي په یوه ځای کې پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..............................................................

کوښښ کوې چې يواځې اوسي او د خپلې درملنې نه خوشحاله او پاک صفا ګرځي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شويو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
..............................................................

۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپېنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اېنجینېرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارہ ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوهړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري

........................................................

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٢. لیونی لېوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٥. سپین کارغه
٦. سور تنور
٧. خړه بیزو
٨. بندي مرغه
٩. توده بړستن
١٠. بې وخته باران
١١. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د امکان او وخت په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Famous drug user

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: August - September /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**